ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14

ماخذ تحقیقی مجلہ

**حيدر حسين**
پي ايچ ډي (پښتو) ريسرچ سکالر پېښور پوهنتون
-
**ډاکټر شېرزمان سيماب**
اسسټنټ پروفېسر پېښور پوهنتون

# د ملاکنډ په ډرامه کښي د صابر حجازي مقام: تحقيقي او تنقيدي مطالعه

**Haider Hussain***
Ph. D (Pashto) Research Scholar, University of Peshawar.
**Dr Sher Zaman Seemab**
Assistant Professor, University of Peshawar.

***Corresponding Author:** haiderhussain84@gmail.com

## Position of Sabir Hijazi's in plays of Malakand: A Research and Critical Study

An exploratory review of the Dramas of Mr. Khaista Khan Sabir Hijazi. Drama is an important genre of fiction which originated from ancient Greece. It is considered to be a story composed either in prose or in poetry form to be performed with the help of characters that must have the ability to show or to stage the whole story precisely with the help of dialogues, body language or emotions. Drama is said to be a mirror or reflection of the society which portrays its real face. The Pashto literature is rich in various types of Dramas. In this article an exploratory review of the two Dramas of Mr. Khaista Khan Sabir Hijazi has been carried out.

.

**Keywords**: *Pashto drama, Sabir Hijazi, Malakand Drama, Tatey Deewey, Ronr Sahar*

د نورو ژبو د ادبياتو په څېر په پښتو ادب کښي هم فکشن يا قيصئيز ادب يو لوے کردار لري

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



. د موضوع یا مضمون په لحاظ چې نثر په کومو صنفونو کښې ویشلے شوے دے په هغې کښې ډرامه یو اهم صنف ګڼلے کېږي .

ډرماه د یونانی ژبې د "ډراو" نه اخذ شوے لفظ دے چې معنٰی ئې عمل کول دي .

"The term drama comes from a Greek word Meaning "action" which is derived from "drao" or " I do"1

پروفېسر افضل رضا د ډرامې په حقله داسې وائي چې :

" ډرامه هغه ښودنه یا ننداره ده چې په هغې کښې کرېکټرونه د خبرو،تمثیل، حرکاتو او کړونو په وسیله د ژوند یوه برخه تمثیلوي " 2

"ډرامه د قیصئیز ادب د نورو اصنافو لکه ناول،قیصې، افسانې وغېره سره شریکې پولې لري خو د ډرامې ځانګړتیا دا ده چې دا د وړاندې کولو یا ښودلو عمل دے "3

په قیصئیز ادب کښې ډرامه د مقصد د اظهاریت تر ټولو مؤثره طریقه ګرځولې شوې ده . ادب پوهان په دې خبره زور ورکوي چې د یو ملک یا قام د تهذیب او تمدن د ارتقاء اندازه د هغه ملک د ډرامو نه کېږي .

افضل رضا صېب د ډرامې د ارتقاء په اړه داسې وائي چې :

" د ډرامې د فن ابتداء د یونان نه شوې ده "4

په ایشیاء کښې د ډرامې ابتداء د سنسکرت ژبې نه شوې ده او بیا دغه ډرامه پښتو ادب په ډېر وخت کښې قبوله کړېده . هسې خو د ډرامې د تاریخ په حواله پوهان د یو بل سره اختلاف لري خو په دې خبره ټول پوهان یو خُلهٔ دي چې پښتو ادب ته ډرامه هم د دغې هند د ډرامې په لاره راغلې ده . د شلمې صدۍ په مینځ و مان کښې ډرامه پښتو ادب کښې وځلېده او د ډرامې په ښکاره لیکوالانو کښې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

امیر نواز خان جلیا،محمد اسلم خان خټک،قاضي رحیم الله،عبدالخالق خلیق،فضل رحیم ،عبدالاکبر خان اکبر او داسې نور شامل وو" 5

په پښتو ادب کښې د ډرامه لیکنې روایت برقرار وساتلے شو او ګڼ شمېر ادیبانو دې صنف کښې طبع ازمائي وکړه او کوي ئې .

د ادب د نورو اصنافو په څېر ډرامه هم څو بنیادي توکي یا عناصر لري چې د ډرامې د فن او فکر جاج ترې اخستے شي .

محب الرحمان د ډرامې د عناصرو په حقله داسې لیکي چې :

" د نړۍ ډرامه پوهان د ډرامې د اووۀ عناصرو په اړه تر ډېره حده یوه خلۀ دي . دغه اووۀ عناصر په دې ډول دي .

1 . موضوع 2 . پېغام 3 . پلاټ یا د کیسې نقشه

4 . کرکټر یا شخصیت 5 . زمان و مکان 6 . فضا

او حالت 7 . ډیالوګونه او خبرې اترې " 6

په دې لړ کښې اوږدې اوږدې ډرامې هم لیکلے شوي دي داسې او لنډې ډرامې هم چې کردارونه او پلاټ ئې مختصر وي . دلته مونږ د ښاغلي صابر حجازي د دوه ډرامو جاج اخلو .

موضوع :

د ډرامه نګار دپاره تر ټولو مهم د ډرامې د موضوع انتخاب وي . د موضوع په انتخاب کښې باید چې ډرامه لیکونکي د دې خبرې خیال وساتي چې موضوع د چاپېرچل سره سمون خوري او د معاشرتي عکاسی څرک په کښې په نظر راځي . موضوع چې څومره په زړۀ پورې وي د ډرامې تاثیر به هغه هومره زیات وي .

" په ډرامه کښې هر ډول موضوعاتګ ځائېدے شي شاید دا به ئې یوه زړۀ پورې ځانګړنه وي " 7

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

د ډرامې دويم اهم عنصر په ډرامه کښې موجود هغه پېغام دے چې ليکوال ئې د خپل چاپېرچل د مشاهدې په نتيجه کښې د خپلې ډرامې په ذريعه د وګړو په وړاندې ږدي او د ټولنې د بېلا بېلو سرګرميو محرکات او نتائج په ګوته کوي په هر دور کښې ډرامې خپل پېغام تر کتونکيو يا لوستونکيو رسولے دے د مثال په توګه د ترقي پسند تحريک پلويانو د خپلې ډرامې په ذريعه د ټولنيز لاندې باندې غندنه کړې ده يا دطبقاتي نظام خلاف ئې د اولسونو دپارولو هڅې کړې دي . د پېغام په لحاظ ډرامه په هر دور کښې د ټولنې ترجمان صنف ګڼلے کېږي ځکه چې ډرامه کښې په عملي توګه د اېکشن په ذريعه خپله مدعا بيانېږي .

د ډرامې يو بل اهم توکے پلاټ دے . پلاټ د ډرامې د کردارونو هغه سرګرمي ده چې په منطقي توګه په يو ترتيب سره د واقعاتو تسلسل او تړون ساتي او د کتونکيو وړاندې يو منظر يا واقعه په داسې ډول پېش کوي چې د حقيقت ګمان پرې کېږي . د پلاټ په حقله شاغلے محب الرحمان محب داسې ليکي چې :

" د ډرامې پلاټ هم د نورو نثري ژانرو په څېر مهم رکن بللے شوے دے " 8

د ډرامې يو بل مهم توکے مکالمه يا خبرې اترې دي . ډرامه څنګه چې مخکښې بيان کړے شو چې دا د کردارونو د " کړنو" سره تعلق لري لکه د خبرو کول يا څۀ قسم سرګرمی داسې انداز کښې وړاندې کول چې خبرې په کښې نۀ وي خو د تاثراتو يا د اشارو په ذريعه د څۀ خواهش يا څۀ څيز د حصول اظهار يا د خپلو جذباتو ښکاره کول وي په دغه وجه مکالمه د ډرامې په مقام ټاکلو کښې مهم کردار لوبوي .

" د ډرامې مکالمې دعا دي ژوند يا په اصطلاح کښې د انسانانو ورځنۍ خبرې اترې دي چې ترتيباً زړۀ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


راښکون او جذباتيت به مو په کښې ځاے په ځاے کړے وي "9

" د مکالمې دپاره ضروري ده چې دا به ساده او عام فهمه وي خپل تسلسل به برقرار ساتي ،د کرېکټر سره به موزونيت لري او چې څومره مکالمه لنډه وي ډرامه به هغه هومره جاذبه او تاثير لرونکي وي " 10

کرېکټر په ډرامه کښې يو بل مهم عنصر دے ـ د ډرامې بنيادي انحصار په دوه کرېکټرونو وي کومه چې ډرامه مخ په وړاندې بوځي په دغه کردارونو کښې وي ته اتل يا هيرو او بل ته ولن وئيلے کېږي .د ډرامې هيرو عموماً مثبت کردار لوبوونکے وي او ولن د هيرو په ضد ولاړ وي ـ د کردارونو په حقله ښاغلے محب الرحمان داسې ليکي :

" هيرو يا اتل چې ورته protagonist وائي دا يو پېښه زېږوونکے کردار وي او د اتل دښمن کرېکټر چې ولن يا Antagonist ورته وائي ـ د اتل په لاره کښې خنډ جوړېږي ـ د دې نه علاوه ثانوي کردارونه يا سيکنډري کرېکټرز هم په ډرامه کښې مهم کردار لوبوي " 11

د ډرامې يو بل مهم عنصر د زمان و مکان خيال ساتنه ده ـ هغه ډرامه کاميابه بللے کېږي چې کردارونه ئې د زمان و مکان سره سمون خوري او واقعات ئې د يو خاص تسلسل سره په موزون وخت او موزون ځاے کښې د ډرامې قيصه مخ په وړاندې بوځي ـ د زمان و مکان سره سم د فضا او حالت خيال ساتنه هم په فني او فکري توګه د ډرامې په مقام اثر پرېباسي ـ

ډرامه تتې ډيوې :

موضوع :

دا ډېره اهمه موضوع ده چې د پښتني ټولنې هغه تور او بدرنګه مخ ئې راښکاره کړے دے کوم چې د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


خانی ملکی د کلچر ترجماني کوي . دغه کلچر په پښتنه ټولنه کښې ئې يو ډېر لوئي طبقاتي لاندے باندے جوړ کړے دے په يوه سيمه او يوه خاوره اوسېدونکي دوه طبقې چې يوه طبقه د خانانو او بله د غريبانو وي د هغوي دپاره د ژوند ټول رنګونه بيخي د يو بل اپوټه وي . دغه دوه طبقې دوه بېل قانونونه لري چې دغه تضاد ټولنه د يو نۀ ختمېدونکي زوال او بې اتفاقی سره مخ کوي . د ترقی په ځاے د هرې نوې ورځ سره ئې مخ په شکته بيائي . د ډرامې مرکزي کردار په داسې ساه ډوبېدونکي ماحول کښې د نوي ژوند د زيري په څېر د دغه نظام خلاف د جنګ هڅه کوي او د علاقې د ماشومانو دپاره خپله زمکه د سکول دپاره وقف کوي چې د اختر تربور ئې مخالفت کوي ولې اختر د خپلې پښتونولی او لوظ نه وروسته کېدو نه انکار کوي او دا خبره ښکاره کوي چې څنګه زما او ستا د بچي تعليم يو بنيادي حق دے دغه شان د کلي د خوارانو د بچو هم دا بنيادي حق دے چې د تعليم نه محرومه نۀ کړے شي په دې ټوله تنازعه او شخړه کښې اختر خپل زلمے زوے او ټبر هم بائېلي او تر دې چې کور کلے پرېږدي او په ښار کښې د يو بې نومه او بې کوره سړي غوندې ټول ژوند د يو ډاکټر سره په نوکرۍ کښې تېر کړي خو خپل لوظ پوره کړي تياره کښې د ډيوې بلولو مقصد تر سره کړي . دا موضوع په نن دور کښې هم د پښتنې ټولنې د ډېرو سيمو ترجماني کوي .

قيصه :

ډاکټر اشرف په خپل کلينک کښې ناست د مريضانو معائنه کوي . د ټلی د اواز سره اختر د هغه نوکر راشي . ډاکټر ورنه د سبا دپاره د تلو د تيارۍ وائي چې سفر اوږد دے سحر وختي به ووځو . د دې خبرې سره د اختر په تندي د فکر کرښې راښکاره شي . ډاکټر اشرف د هغه ټبر او ماشوماني او اختر سحر وختي د خپل منزل په لور روان شي په لاره کښې اشرف د فطري ښکلاګانو ذکر کوي خو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


اختر ته ئې پام شي چې ډېر فکرمند او ابتر ښکاري هغه ترې تپوس کوي او اختر ورته د خپل دغه کلي او ژوند قيصه کوي چې څنګه اختر د کلي د سکول دپاره خپله زمکه سرکار له ورکړه خو د هغه د ترۀ زوے چې د کلي ملک ګل ملک نومېدۀ په هغه دا خبره ښۀ ونۀ لګېده چې د کلي دا خوار خوشي خلق به هم د سبق او علم په رڼا منور شي . د هغه خپل زوے په ښار کښې اعلٰی تعليم حاصلوي او هغه وائي چې تعليم صرف د هغو د جامې سره ښائي . د اختر د شپاړسو کالو زوے سعيد چې يو ډېر فرمانبردار و د هغه يک يو اولاد وي په کومه ورځ چې د سکول پرانستو دستوره وي هغه د پلار په ځاے د مېلمنو خاطر مدار ته ولاړ وي ځکه چې اختر په څۀ کار پسې ښار ته تلے وي . ګل ملک هغه اووژني ځکه چې ګل ملک د منع کولو باوجود اختر د سکول دپاره زمکه وقف کړي وي او ګل ملک ته ئې دا جواب ورکړے وي چې زۀ د ټول کلي بچي خپل بچي ګڼم او ما لوظ کړے دے زۀ د خپلې پښتونولی او لوظ نه نۀ وروسته کېږم . اختر چې د ښار نه راواپس شي نو د خپل کور خوا کښې ئې غوغا تر غوږ شي د هغۀ زوے ګل ملک وژلے وي . د هغه کورودانې زرمينه لېونۍ شي او يوه ورځ هغه هم د غر نه د راپرېوتو لۀ کبله مړه شي . اختر په دغه کلي کښې نور ژوند نۀ شي کولے او ښار ته لاړ شي ټول عمر هلته تېر کړي خو په په دغه ورځ هم چې د ډاکټر اشرف ګاډے کلي ته نزدې شي نو د سکول نه د علامه اقبال د مشهور نظم :

لب پہ اتی ہے دعا بن کے تمنا میری

اواز چې د اختر تر غوږو شي نو هغه په خپله فېصلې مطمئن وي چې خپل ټبر او بچے ئې بائيلل خو د خاورې د بچو حق ئې ادا کړو او هم دغلته اختر هم د خپل زوي او ټبر قبرونو سره خپل ژوند بائيلي .

کردارنګاري :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


په تتي ډیوي کښي ټول شپږ کردارونه دي . مرکزي کردار ئې اختر دے چې د ډاکټر اشرف نوکر دے . د ډرامې په اغاز کښې اختر د ډاکټر اشرف د نوکر په توګه ښکاره شوے دے ولې وروسته اختر هغه اتل ثابت شي چا چې د قام د بچو د کلي د روښانه مستقبل په خاطر د خپل کلي د ظالم ملک د منع کولو باوجود خپله زمکه د سرکاري سکول دپاره وقف کړه او د خپل ټبر او زلمي زوي قرباني ئې ورکړه .
دویم کردار د ډاکټر اشرف دے چې په یوه ننداره کښې په خپل کلینک کښې ناست د مریضانو معائنه کوي او په بله کښې د اختر او خپل ټبر سره د یو کلي په چکر ځي چې اختر ورته په دغه سفر کښې د خپل ماضي قیصه بیانوي . د ډاکټر اشرف کردار هغه ثانوي کردار دے چې د مرکزي کردار د مخ په وړاندې تلو دپاره یو محرک وي .

بل کردار د ګل ملک دے چې د خپل کلي ملک دے او د روایتي خانانو ملکانو په څېر ورته عام خلق د څاروو په شان ښکاري په خپل زوي په ښار کښې اعلیٰ تعلیم کوي ولې په دې ئې خاطر ښۀ نۀ دے چې په کلي کښې دې د ماشومانو دپاره سکول پرانستے شه هغه په اختر پسې کورته ځي او دهمکي ورکوي چې دا فېصله دې واپس واخله ګني ښۀ به درله نۀ شي او بیا هم خپلې دهمکی ته عملي جامه داسې اغوندي چې د اختر زلمے زوے سعید وژني .
زرینه یو بل کردار دے چې د اختر کور وداني ده هغه په خپل کور،خاوند او زوے مئینه یوه رښتینې او سوچه پښتنه ده چې د کور ذمه واری هم ترسره کوي . د زلمي زوي په ناسته پاسته هم نظر ساتي او د خپل خاوند په مینه کښې هغه د سکول د زمکې د وقف کولو نه منع کوي چې ګل ملک ډېر ظالم دے هسې نۀ د څۀ نقصان سبب جوړ نۀ شي .
یو بل کردار د شاهد دے چې د ګل ملک زوے دے او په ښار کښې تعلیم حاصلوي .

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



پلاټ :

په قیصئیز ادب کښي د صنف ډېر دارومدار په پلاټ وي چې پلاټ ساده وي لوستونکي د ذهني مشقت نه بچ کوي د تتې ډیوې پلاټ هم ساده او روان پلاټ دے په اسانه او روانه تبدیلی ډرامه پائې ته رسېدلې ده .

مکالمې :

مکالمه د ډرامې د کردارونو تر مینځه خبرې اترې وي . څومره چې مکالمه خوندوره او چسته وي د ډرامې خوند ورسره لا سېوا شي .

په تتې ډیوې کښې ډېره ښهٔ مکالمه نګاري شوې ده چې د کردارونو سره بیخي موزونه او سمه ده د مثال په توګه دا مکالمه چې د اختر او زرینې تر مینځه ده د روایتي ښځې او خاوند د مکالمې ښکاره مثال دے :

" زرینه : د سعید پلاره سعید اوس روزانه کور ته ناوخته راځي .

اختر : (په لا پرواهی سره) سعید اوس روزانه کور ته ناوخته راځي .

زرینه : هلک دے نهٔ پوهېږي خو پوهه کول غواړي د شپې بهر ګرځېدل ئې زما نهٔ دي خوښ .

اختر : (په غصه کښې) نو زهٔ څهٔ اوکړم پوهه ئې کړه کنه . ( زرینه غلې شي) .

زرینه : رښتیا د سکول د هغه زمکې څهٔ چل اوشو؟

اختر : بس د قوم د بچو دپاره وقف کړه .

زرینه : خو د خپلو بچو درسره څهٔ خیال شته کنه ؟ "12

یا دا مکالمه چې د یو روایتي ملک هغه رویه ترېنه بیخي څرګنده ده چې د خپل جائېداد او طاقت په نشه ګنې ورته غریب خلق لکه د انسانیت د دائرې وتلې ښکاري خو بل اړخ ته د یو سوچه او قام پاله پښتون په صورت کښې اختر په خپله خبره کلک ولاړ وي او د ملک هیڅ قسمه رعب او دړکې په خپل خاطر کښې نهٔ راولي .

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14

"اختر : ملک صیب ستړي مشئ .... څنګه مو لار خطا کړه ؟
ملک : بس اختره مونږ وئيل ستاسو سره به ملاقات هم اوشي او يو څو د غرض خبرې به هم اوکړو .
اختر : ډېر مو ښۀ اوکړه ما خو لږ وړاندې د سعيد نه ستاسو پوښتنه وکړه . ( او دا مکالمه دغه شان وړاندې بوځي )
ملک : اختره زۀ دا نۀ غواړم چې په دې تورو غرونو کښې دې څوک سبق ..........
ملک : خو زۀ تکلفات نۀ خوښوم .
اختر : ښه ملک صيب څنګه مو پېښه اوکړه ؟
ملک : اختره زۀ خبر شوے يم چې تا د سکول دپاره زمکه ورکړې ده .
اختر: او ملک صيب د حکومت زما زمکه خوښه شوه نو ما هم ورته انکار اونۀ کړو . زمونږ د بچو د روښانه مستقبل خبره ده .
ملک : نو تۀ زما نه هډو پوښتنه اوکړه .
اختر: ملک صيب په ښۀ کار کښې څوک د چا نه پوښتنه نۀ کوي . ( او مسکے شي ) .
ملک : خو دا تا ښۀ کار نۀ دے کړے .
اختر : هغه څنګه ملک صيب ؟
ملک : اختره زۀ دا نۀ غواړم چې په دې نورو غرونو کښې دې څوک سبق اووائي . ځکه چې سبق د انسان نه غېرت،پت او حيا لرې کوي او بيا مونږه خو هم څۀ سبق نه دے وئيلے .
اختر : ملک صيب کۀ تاسو سبق نۀ دے وئيلے نو نن خو ستاسو زوے د خېره سره په ښار کښې سبق وائي کنه او څو کاله پس به افسر شي دا زمونږ د سيمې دپاره څومره د خوشحالۍ خبره ده .
ملک : دا خو ټيک ده ( او په برق برق په خندا شي ) .
اختر : دغه شان کۀ د دې خوارې او خړې پړې سيمې نور بچي هم ...........
( خو ملک د اختر خبره پرېکړي )

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


ملک : زۀ دا نۀ غواړم چې د دې خاورې نور خلق دې زما د زوې په شان افسران شي افسري او تعليم زمونږ د جامې سره ښائي ـ
اختر : خو ملک صېب دا نور خلق هم ددې حقدار دي ـ
ملک : حق حق نشته اختره خو داسې اوکړه چې ته خپله زمکه واپس کړه ـ
اختر : خو اوس ما لوظ کړے دے ـ
ملک : هر څۀ چې دي خو تۀ به زما منې ـ
اختر : خو ملک صېب ملک د پښتو دے خلق به څۀ وائي ؟
ملک : زما د خلقو د خبرو سره هيڅ کار نشته ـ
اختر: خو ملک صېب ........ بيا زما دا فېصله اخري فېصله اوګڼئ ـ
ملک : تۀ سوچ اوکړه دا به درته ډېره ګرانه شي ـ
اختر : هر څۀ چې وي د قدرت لۀ اړخه به وي ـ
ملک : ښه ده نو مونږ لاړو.........
اختر : چاے خو وڅښئ کنه ـ
ملک : چاے ستا نصيب شه (او ملک او د هغه سړي په غصه کښې د اختر د حجرې نه ووځي "13

په دې مکالمه کښې د هغه روايتي خان ازم او طبقاتي تضاد ښکاره تصوير ښکاري چې دغه ملکان محض د غريب اولس دپاره د حيا او عزت په بهانه يا په بل څۀ هيله واله د تعليم دروازې پرانستل نۀ غواړي د هغوي په زړونو کښې دا ويره وي چې کۀ دا نولوستي خلق د علم او تعليم په ذريعه د خپل حق نه خبر شول نو د خانانو او ملکانو دا بې ځايه زور به هيڅ څوک نۀ مني او د دوي د بې زوره سرزوري به سر اوخوري ـ

منظر نګاري :

په ډرامه کښې د زمان و مکان،فضا او حالت توکي لازمي ګڼلے کېږي ـ کله چې يو ليکوال د دغه توکو سره انصاف وکړي نو په ډرامه کښې ډېره ښۀ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


منظرکشي په نظر راځي چې د ډرامې خوند ورسره لا سېوا شي او د پلاټ په مضبوطوالي کښې هم اهم کردار لوبوي .

په تته ډیوه کښې ډېره ښۀ منظر کشي شوې ده د ډرامې په شروع کښې د کلینک منظر څۀ داسې دے چې :

" ډاکټر اشرف په خپل کلینک کښې ناست دے د مریضانو معائنه کوي د هغه لاس د ټلی بټن ته ورسي ټلی وهلې کېږي د بهر نه د هغه نوکر اختر رانـنوځي "14

یا دا منظر چې :

" اختره تاسو څومره خوش قسمته یئ په دې دنګو دنګو ښکلو واورینو څوکو کښې اوسئ دا ځنګلونه،د یخو اوبو چینې،دا ابشارونه نغمې،د نښترو شغار او د قدرت د مناظرو ښکلې نندارې 15"

د وطن مینه او قام پرستي :

په دې ډرامه کښې د مرکزي کردار اختر د خپل وطن سره بې کچه مینه او د خپل قام او اولس سره مینه په غورځنګونو ده . اختر د قام بچي خپل بچي ګڼي د هغۀ خواهش دے چې د هغۀ د سیمې هر بچے دې د تعلیم په رڼا منور شي او هغه حکومت ته د سکول دپاره زمکه وقف کوي د هغۀ دا خواهش پوره شو چې د کلي په سکول کښې شنه هلالي جنډه په ګډېدو شوه او په دې ټول عمل کښې اختر خپل ټول خاندان بائېلو او د کلي د ژوند نه لرې په ښار کښې په ژوند کولو مجبوره شو .

د جهالت د تیارو د ختمولو هڅه :

اختر د جهالت د تیارو د ختمولو هڅه وکړه هغه په دې خبره خبر وۀ چې د قام د ترقۍ په لړ کښې تعلیم مهم کردار لوبوي . ښاغلے ښائسته خان صابر حجازي په دې ډرامه کښې د اختر کردار د حصول علم په لړ کښې دومره جاندار ښودلے دے چې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

د لوستونکیو ورسره مینه پېدا شي او د تعلیم دپاره د هغۀ هلوځلو ته سلام پېش کوي ۔

مجموعي تاثر :

تتې ډیوې د ښاغلي ښائسته خان صابر حجازي یوه غوره او علمي ډرامه ده د پښتنو د وروسته پاتې کېدو سبب چې د سبق نه لرې والے دے دغه تاثر په کښې ښکاره دے او دغه وجوهات هم په نخښه شوي دي چې د پښتنو د دغه بدبختئ سبب په اصل کښې هم د دې معاشرې هغه مخاوریز خلق دي کوم چې د اولس نه زیات په خپل ذات مئین وي او د خپلې انا د تسکین دپاره دا قوم د تعلیم نه ښۀ قصداً لرې ساتي خو هم په دې ټولنه کښې د اختر په څېر وګړي هم شتون لري چې د قام په مینه کښې دومره مست وي چې د هر قسمه نتیجې او نقصان نه په پرته د قام خېر ښېګړې دپاره هلې ځلې کوي او د خپل مال او خپل ځان قربانولو ته هم تیار وي ۔

تنقیدي جاج :

د ډرامې تتې ډیوې تنقیدي جاج کښې د ډرامې فني او فکري دواړه اړخونه بیانول ضروري دي په فني توګه دا ډرامه په یو قسط مشتمله ده چې لوستونکي ئې په یوه ناسته کښې لوستے شي داسې خو ډرامه د کولو یا کړلو سره تعلق لري خو د یو ادبي صنف په توګه په لیکلي بڼه هم ډرامه په ادب کښې موجوده وي او لوستلو روایت ئې هم ډېر عام دے په تتې ډیوې کښې د عام فهمه او مروزه ژوند انداز بیان استعمال شوے دے ۔ مکالمې ئې بیخې په امروزه ژوند کښې پکار راوړونکې مکالمې دي یا د امروزه ژوند خبرې اترې دي ۔ د هر کردار سره د هغۀ مکالمه سمون خوري ۔ پلاټ ئې ساده او روان دے په شروع کښې تجسس هم لري چې د لوستونکیو په دلچسپئ کښې نوره هم اضافه کوي ۔ ښائسته منظرکشي،د ټولنیز ژوند عمومي ژوندي کردارونه،د پښتنې ټولنې د بدبختئ په شا موجود محرکات د ډرامې خاصه ده په مجموعي توګه دا یوه ټریجیډي ده چې د مرکزي کردار په مرګ ختمېږي خو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

د مرکزي کردار مرګ په تیاره کښې لکه د تتې ډیوې روښانه وي .

ډرامه "روڼ سحر " :

موضوع :

په دې ډرامه کښې ښاغلي لیکوال یوه ډېره مهمه موضوع مخې ته راوړې ده د پښتنې ټولنې د خانۍ او ناظرۍ یو فرسوده روایت چې دا ټولنه ئې د قسما قسم ذهني او بدني کشالو سره مخ کړې ده . د دولت غېر منصفانه تقسیم دے چې د مودو راسې را روان دے کوم دهقانان یا ناظران چې د خپلو وینو او خولو په بدل د خانانو د زمکو نه سرۀ رازرغونوي . د خانانو په خدمت کښې ئې په څان شپه ورځ یوه کړې دي او په خپل ذات همېشه خانانو له ترجیح ورکوي هم دغه خانان دي مزدورانو ته د انسان په سترګه هم نۀ ګوري او تاریخ د داسې واقعاتو نه ډک دے چې تل د خان او ملک د پولې پټي او اوبو په جنګ کښې د خانانو ملکانو دا ناظران خپل سرونه بائیلي :

خانان مینځ کښې توي شي د رامبېل چامبېل ګلونه ډرامه نګار دپاره دا خبره ضروري ګڼلے کېږي چې هغه به داسې موضوع انتخابوي چې د ټولنې د دود دستور،رسم و رواج یا کلتور عکس په کښې په نظر راځي او د ټولنې داسې ستونزې په کښې بیان شي چې د کتونکیو یا لوستونکیو هغې اړخ ته پام راوګرځوي او بیا یو ښۀ ډرامه لیکونکے په انجام کښې د هغه ستونزې حل هم پېش کولے شي . ډرامه " روڼ سحر" هم داسې ډرامه ده چې د پښتنې ټولنې یو د ظلم روایت،طبقاتي تضاد،د جهالت لۀ کبله په وړه وړه خبره د مرګ او ژوبلې لوبې ته لاس اچول په کښې په نخښه شوې دي خو په اخره کښې د دغه ظلم خلاف د بغاوت اواز هم پورته کړے شوے دے .

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


کردار نګاري :
په دې ډرامه کښې ټول کردارونه پينځه دي .
اکبر خان : د بر کلي ملک دے د خپل طاقت په نشه غاوره دے او د روايتي ملکانو غوندې د هرې ستونزې حل ورته د طاقت په زور د جنګ او شخړې په صورت کښې ښکاري . د خپلې ملکۍ د ثابتولو دپاره خپل خادمان او ناظران ډز او ټوپک ته مخامخ کوي .
دويم کردار د اشرف دے چې د اکبر خان ناظر دے او د اکبر کان دپاره هر څۀ کولو ته تيار دے څکه چې د هغۀ غېرت هغۀ ته د اجازت نۀ ورکوي چې د هغۀ په نمک حلالۍ څوک ګوته پورته کړي هغه په خپله د جنګ او ژوبلو نه کرکه کوي او د اکبر خان د فطرت غندنه هم کوي چې په هره خبره جنګ او شخړې ته تيار وي ولې په خپله وفادارۍ کښې د اکبر خان هم حکم منلو ته هر وخت تيار وي .
دريم کردار د دلاور دے چې د اشرف خان زوے دے دلاور يو تعليم يافته هلک دے په ښار کښې د نوکرۍ د حصول دپاره کوشش کوي په دې خبره خفه دے چې پلار ئې په بوډاتوب هم د خانانو ناظري کوي او خانان چې ورسره کوم سلوک ساتي هغه ورته د خپل پلار بې عزتي ښکاري څکه هغه وخت په وخت هڅه کوي چې خپل پلار قائل کړي او د دې کلي نه چرته لرې بل خوا لاړ شي چې د ازادۍ او عزت ژوند تېر کړي .
بل کردار د رضيې دے چې د اشرف ټبر ده هغه د خپل خاوند او زوه سره مينه لري او د خاوند او د زوي د سر د خېر فکر کوي هر وخت په دې سودا کښې وي چې هسې نه خاوند ته ئې څوک څۀ نقصان ونۀ رسوي .
اخري کردار د رحمداد خان دے چې د کوز کلي ملک دے او د بر کلي د اکبر خان سره ئې د اوبو په

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



وار شخړه وي دغه خان په ظلم او زياتي کښې د اکبر خان نه زيات دے او په علاقه کښې د خپل ظلم په سبب شهرت لري .
دې کردارونو خپل خپل کردار په ښکلې طريقه سره ادا کړے دے چې د ډرامه نګار د ډرامه نګارئ په کمال دلالت کوي په ډرامه کښې د اکبر خان او رحمداد خان ناظرانو او د کلي خلقو د مائنر کردارونو کردار هم په ښۀ طريقې سره لوبولے دے .

قيصه :

د بر کلي ملک اکبر خان او د کوز کلي ملک رحمداد خان د اوبۀ خور په اوبو د بل سره وران وي . رحمداد خان په وچ کلک زور د کوز کلي په وار کښې هم اوبۀ خپلو پټو ته اړوي او وسله په لاس نوکران ورته لکه د پهره دارو ولاړ وي د دګه وېرې د وجې ورته څوک غږ نۀ شي کولے . اکبر خان د اشرف خان نه تپوس کوي چې د اوبو څنګه چل دے او چې هغه ورته جواب کښې دا ووائي چې د کوز کلي د ملک صېب سره دي اکبر خان له په دې خبره قهر ورشي چې هغه څۀ خبرې ملک دے کوم چې دا خبره ظاهروي چې د اکبرخان او رحمداد خان تر مينځه ډېر خراب تعلقات دي او دواړه يو بل د ځاب د ښکته ثابتولو کوشش کوي .
اکبر خان اشرف ته د اوبو د را اړولو وائي اشرف خان د هغه د ظلم په وېرې اظهار کوي خو اکبر خان د هغه خبره په خاطر کښې نۀ راولي او حکميه ورته وائي چې سحر لا شئ او اوبۀ ترې راواړوئ . اشرف چې کورته راشي او د اوبو خبره وکړي دلاور خفه شي او پلار ته وائي چې د دې کلي نه چرته لرې لاړ شو د خانانو دا غلامي به مونږ تر څو پورې کوؤ خو پلار ئې وائي چې هغه زمونږ مالکان دي دغه شان سحر اشرف د اکبر خان ځاے ته ځي د خپل زوي د پاس کېدو ورته وائي او د هغه زوے په فېل کېدو د خفګان اظهار کوي کومه چې د خان بد ولګي . هغه سره د څو سړو د اوبو وټې ته لاړ شي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



هلته د رحمداد خان سړي د دوئي سره بحث کوي باوجود د دې چې اشرف خان ورته وائي چې مونږ شر له نۀ يو راغلي هغوي پرې ډزه کوي سړي تښتي او اشرف د تېښتې نه انکار کوي چې په ډزو ولګي او مړ شي.

د کلي نه دلاور سره د نورو خلقو رشي پلار ئې ورته اخري سلګو کښې وائي چې زۀ مجبوره ووم خو تۀ به د خانانو د غلامي نۀ کوې دلاور چې د وړاندې نه د خانانو د غلامۍ خلاف دے. د پلار وصيت لکه د حکم وګڼي او د کلي خلقو ته غږ وکړي چې زما د پلار دا مړے به تر هغه نۀ اوچتوئ چې تر څو تاسو د خانانو د غلامۍ د انجام نه خبر نۀ شئ. تاسو زما د پلار نه عبرت واخلئ او دا د غلامۍ ژوند پرېږدئ د کلي خلق په يو اواز دا اعلان وکړي چې مونږ نوره د خانانو غلامي نۀ منو. اکبر خان چې د کلي د خلقو دا د بغاوت چغه واوري په منډه د هغه ځاے نه وتښتي او د رحمداد ځاے ته لاړ شي. رحمداد خان په دې طمع کښې وي چې ګڼې اکبر خان د هغه نه معافي غواړي هغه ئې ځان ته ترغاره باسي او په دغه وخت کښې دلاور د ټوپک ګولۍ د هغوي د مرګ استازے شي. دلاور ته يو دم د خپلې ازادۍ احساس وشي او نوے نمر ورته د " رونړ سحر " زېرے ښکاره شي.

پلاټ :

په فني لحاظ د رونړ سحر پلاټ يو ساده او روان پلاټ دے هيڅ قسمه تجسس نۀ لري. ټولې تبديلۍ په کښې ډېرې ساده، اسانې او فطري دي. بيخي يوه ساده قيصه معلوميږي خو په فني لحاظ دا پلاټ څۀ لږې ډېرې کمزورۍ لري په ډرامه کښې چې کله اشرف اکبر خان ته د خپل زوي د پاس کېدو خوش خبري اوروي او د هغه د زوي په فېل کېدو افسوس کوي نو باوجود د دې چې د هغۀ خبرې په اکبر خان ناګواره لګي خو هغه بيا هم خپله خبره نۀ پرېږدي کوم چې د يو ظالم خان او يو کمزوري ناظر تر مينځه غېر فطري مکالمه ښکاري. لکه مثلاً

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



" اشرف خان : ملک صېب السلام علیکم
(ملک صېب د چیلم نه سر اوچتوي او اشرف خان ته گوري)
اکبرخان: وعلیکم السلام : اشرفه نن خوشحاله غوندې ښکارې خېر خو دے ؟
اشرف : ملک صېب خوشحاله به نۀ یم دلاور زوے مې په اول نمبر راغلے دے زۀ خو د خوشحالی نه په جامو کښې نۀ ځائېږم . ملک صېب دلاور راته وئیل چې امجد فېل شوے دے ډېر خفه شوم .
اکبر خان: اشرفه ځُلۀ دې بنده کړه گنې نو .............. زمونږ په ډوډو او خیراتونو به لوے شي او په مونږ پورې به خندا کوي .
اشرف : ملک صېب امجد خان خو ماته د دلاور نه گران دے خو د خدائے کارونه دي چې څۀ غواړي هغه کوي .
اکبر خان: ( په غصه کښې) تۀ پرېږده دا خبرې ورشه او د هغه اوبو څۀ بندوبست اوکړه .
اشرف خان : ډېره ښه ده ملک صېب دا دے لاړم "16
په پلاټ کښې یوه بله کمزوري په هغه ځائے کښې په نظر راځي کله چې اشرف د رحمداد د سړو د گولی دلاسه مړ شي او د کلي خلق د اشرف د کټ اوچتولو کوشش کوي نو دلاور په هغه ځائے یو جذباتي تقریر وکړي او د کلي خلق د هغه د تقریر سره سم د خانانو نه د بغاوت وعده وکړي .
" د کلي خلقو واورئ . زما د دې مړ پلار نه عبرت واخلئ دا خانان او جاگیرداران زمونږ د ارمانونو او امیدونو قاتلان دي . د کلي ملکانو ستاسو د بې ځایه پښتو او پت په وجه داسې ډېر بې گناه دل شو داسې ډېر دلاورنا یتیمان شو داسې ډېرې تور سرې سرتورې شوې خو ستاسو زړۀ یخ نۀ شو . زۀ نن دا اعلان کؤم چې مونږ نوره د چا ملکي نۀ منو مونږ د چا جاگیرداری نۀ منو . د کلي خلقو ستاسو خوښه ده او کنه ؟ جواب راکړئ .

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

د کلي خلق : نهٔ منو ..... مونږ دا ملکي او خاني نهٔ منو"17

ډرامه نګار په دې منظر کښې دا ښکاره کړې ده چې د کلي خلق د خانانو د ظلم نه تنګ دي خو بايد چې هغه د دې منظر نه وړاندې په اشاره کنايه کښې يا څهٔ بل څهٔ منظرکښې داسې تاثر جوړ کړے وے . دا ډرامه د کلائمکس نه بغېر نېغ په نېغه ډراپ سين ته تلې ښکاري .

مکالمې :

د ډرامې يو اهم جز مکالمه ده کومه چې د ډرامې د تاثير پېدا کولو يا د تاثير ورکولو غټ محرک دے د ډائيلاګ يا مکالمو چې کوم خصوصيات دي هغه په دې ډرامه کښې وخت په وخت په نظر راځي لکه د مکالمو اختصار په دې لاندې مکالمه کښې کتے شي .

اکبر خان : اشرفه د هغها اوبو د وار څهٔ چل وشو؟

اشرف : خان پوره يوه هفته وشوه چې د کوز کلي د ملک سره دي .

اکبر خان: ( په حېرانتيا سره) د کوزکلي ملک ؟ د څهٔ ملک؟ هغه خوار پرق ته هم تهٔ ملک وے؟

اشرف : مونږ ته تاسو ټول خانان يئ ملک صېب مونږ خو (خان د اشرف خبره کټ کوي ) .

اکبر خان : تهٔ نورې خبرې پرېږده ورشه او د کوز کله نه اوبهٔ راواړوه د ځان سره سړي بوځه "18

خو په څهٔ ځاے کښې په دې ډرامه کښې مکالمه اوږده شوې ده چې د مکالمې برجستګي او چستي ورسره متاثره شوې ده . دلاور مکالمې په کومې چې هغه ملکانو ته مخاطب شوے دے د مکالمې نه زيات تقرير ښکاري او دغه خبره د پلاټ سره تصادم هم خوري چې څنګه يو ملک ورسره وسله وال ولاړ وي د يو ناظر

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14


دومره جذباتي مكالمه په استقامت سره اوري او هيڅ قسمه ردعمل نۀ ښكاره كوي .

اسلوب :

ډرامه "روڼ سحر" په ساده،روان او عام فهمه اسلوب كښې ليكلے شوې ډرامه ده . د كلي منظر دے او ژبه او اسلوب ئې د ماحول سره موافقت لري ځاے په ځاے په كښې څۀ ټكي هم داسې راوړے شوي دي چې د علاقې نمائندگي ترې څرگنده ده لكه " خوار پړق" وغيره .

د محاورو استعمال هم پكښې شوے دے لكه په دې منظر كښې چې :

" اشرف : د دلاور مورې (يو سوړ اسوېلے كوي) په ما د چا څۀ دي خپله خواري مزدوري كووم او خپلو بچو له سېر وړۀ گټم "19

يا دا چې :

" رحمداد خان: هلكه دا ستا پلار دے ؟

دلاور : (شاته گوري ) څوك

رحمداد خان : د كوز كلي ملك ستاسو غونډې د تيار خورو دښمن .

دلاور: ملكه څُلۀ دې سمه خوزوه .

رحمداد خان : تۀ لا نۀ پوهېږې چې دنيا څو ډانگه ده ؟

دلاور: (په غصه كښې) دنيا كۀ هر څو ډانگه ده خو شايد ستا د قبر دپاره په كښې د قبر ځاے هم موجود وي "20

مجموعي تاثر:

" روڼ سحر" د ښائسته خان صابر حجازي يو ښۀ كوشش دے چې هغه په كښې د طبقاتي لاندي باندي خلاف قلم پورته كړے دے . هغه دا خبره په ډاگه كړې ده چې تل د خانانو په جنگ او شخړه كښې غريب مري خو خانان د هغوي د وينو هيڅ پرواه نۀ كوي . هگه په دې ډرامه كښې دا خبره واضحه كړېده چې د غلامی ژوند تر هغې د غلامی وي چې تر څو غلام په خپله د خپلې ازادی هڅه نۀ وي كړې او چې كله

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



هم د غلامۍ په ماحول کښې چا د ازادۍ د بغاوت بېرغ پورته کړے دے هغه خپل مرام تر سره کړے دے دغه هم یو ښکاره حقیقت دے چې ازادي همېشه د قربانۍ په بدل راځي خو تر څو چې د خپل حق دپاره اواز پورته نۀ کړے شي څوک هم د ظلم د تیارو نه نۀ شي راوتے .

تنقیدي جاج :

ډرامه " روڼ سحر" په فکري توګه یوه ډېره غوره ډرامه ګڼلے کېدے شي مرکزي خیال ئې د طبقاتي تضاد خلاف اواز پورته کول او د ترقي پسندۍ سوچ له یو محرک ورکول دي . د پښتني ټولنې هیڅ بې هیڅه د جنګ او شخړو نقصان په کښې په ګوته کړے شوے دے او د علم او شعور فائده په کښې څرګنده شوې ده . مکالمې ئې چستې او عام فهمه دي . منظرنګاري ئې موزونه ده او ساده او روان پلاټ د ډرامې خوند لا سېوا کوي خو بل اړخ ته دا ډرامه څۀ لږې ډېرې کمزورۍ هم لري لکه د ډرامې پلاټ هغه ځاے کښې خپل کشش بائیلي چې د یو غریب ناظر زوے د دوه ملکانو د ټوپک مارو په مینځ کښې هغوي ته د مرګ دړکې ورکوي او خانان په ځاے د دې چې هغه هلک هم د هغۀ د پلار غوندې ووژني یا ورته وګواښېږي د هغۀ جذباتي تقریر ته په استقامت ولاړ وي او بیا تېښته وکړي . دغه شان په څۀ ځایونو کښې مکالمې دومره اوږدې شوې دي چې لوستونکي د بوریت ښکار کوي . یوه لویه کمزوري دا هم ده چې د یو زلمي مخض په یو اواز د کلي ټول خلق د خانانو خلاف یوه خُلۀ شي او هغه هم په دې صورت کښې چې د دغه سین نه وړاندې چرته په اشاره کنایه کښې هم د کلي د خلقو د خان ازم خلاف رجحان نۀ دے څرګند شوے داسي ناڅاپه دا بغاوت د فطري عکاسۍ سره سمون نۀ خوري .کۀ د دواړو ډرامو مجموعي تنقیدي جاج واخستے شي نو دا د لیکوال د پښتني معاشرې یوه غوره عکاسي ده چې د خان ، نواب او غریبې طبقې یو نۀ ختمېدونکے کشمکش ئې په کښې عکاسي کوي او د عصري ترجمانۍ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14



بڅري په کښې برېښي . د ډرامه نګار نه څۀ کمی هم شوي دي چې په ډواړو ډرامو کښې بېلا بېلې ذکر کړے شوي دي خو يوه عمومي کمزوري په کښې دا ده چې د نومونو د انتخاب په وخت بايد چې ليکوال د لږ مشقت نه کار واخلي په ډرامه "روڼ سحر" کښې د ملک نوم اکبر او د ناظر نوم اشرف دے چې لوستونکے په وړومبي ځل لږ د ستونزې ښکار کوي او زما غوندې نور لوستونکي هم کېدے شي چې د نومونو دپاره دوه درې ځله دغه د کردارونو نومونه لوستي وي . بله يوه ستونزه دا مخې ته راځي چې کۀ لوستونکے په يو نشت کښې دا دوه ډرامې لولي نو يو کنفيوژن دا مخې ته راځي چې په " روڼ سحر " کښې د ناظر نوم اشرف دے او په " تتې ډيوې" کښې د ډاکټر نوم اشرف دے کوم چې لوستونکي ته دا تاثر ورکوي چې شايد د ليکوال سره د نومونو کمے دے يا ليکوال د نومونو په انتخاب کښې د ارام پسندئ نه کار اخستے دے .

حوالې

1 . http:llglosbe.com.accessed.on. 5 aug,2024

2 . رضا،محمد افضل،ډرامه تاريخ،تنقيد او فن،عظيم پبلشنګ هاوس خېبر بازار پېښور،مخ 16

3 . محب،محب الرحمان،په ډرامه کښې کرېکټر کښنه، اسد دانش مطبعه کابل،2014،مخ 23

4 . رضا، محمد افضل، مخ 19

5 . کتوزے،سحر ګل ، پښتو ادب پوهنه،مخونه 214،215

6 . محب،محب الرحمان،په ډرامه کښې کرېکټر کښنه،مخونه 27،28

7 . هم دغه اثر، مخ 24

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-14
ماخذ تحقیقی مجلہ

8 ۔ هم دغه اثر، مخ 26
9 ۔ هم دغه اثر، هم دغه مخ
10 ۔ هم دغه اثر، مخ 27
11 ۔ هم دغه اثر، هم دغه مخ
12 ۔ صابرحجازي،شائسته خان ، تتې ډيوې، ناچاپه، مخ 3
13 ۔ هم دغه اثر، مخونه 4،5،6
14 ۔ هم دغه اثر، مخ 1
15 ۔ هم دغه اثر، هم دغه مخ
16 ۔ صابرحجازي،شائسته خان، روڼ سحر، پښتو ادبي سلسله ، مخ 47
17 ۔ هم دغه اثر، مخ 52
18 ۔ هم دغه اثر، مخ 43
19 ۔ هم دغه اثر، مخ 44
20 ۔ هم دغه اثر، مخ 49